فزیک

# لومړی برخه

لیکونکی: برینکمن ن ج څخه

ژباړی:ډاکتر ماخان (میړی ) شینواری

Ketabton.com

201

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فزیک

## لومړۍ برخه




لیکونکی: برینکمن له Brinkmann.du.de

Smakhan1946@gmail.com

ژباړی:ډاکتر ماخان (میرې) شینواری

جرمني(بن) : ۲۸ د فبروري ۲۰۱۸

د کتاب واک د کتابتون د خپروونکي سره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| سریزه | ۴ |
| ۰ . ۱- میښانیک | ۵ |
| ۲۰تولګیزمیښانیک | ۵ |
| فزیکپوه......کارکوي؟ | ۶ |
| فزیکیلویي | ۶ |
| ۱کچګناوکچیوون | ۶ |
| بنسټیوونونه | ۷ |
| داتن | ۸ |
| ۱ . **برابرډوله خوزښت** | **۹** |
| ۱ . الف – برابربنیز خوزښت............... | ۹ |
| ۱ . ب – نسبتي سیستم | ۱۰ |
| ۱ . ۱ . ۲ پ - خوزښت د برابرپاتیکیدونکی | ۱۰ |
| ۲ . – برابرډوله په بیره خوزښت | ۱۷ |
| ۲ . الف - لار – وخت –دیاګرام او ........ | ۱۸ |
| تمرینونه ............. | ۲۱ |
| ۳ – د سیده کرښیز خوزښت دینامیک | |
| ۲ . الف – دینامیکي بنسټلار(- قانون) | ۲۹ |
| ۲ . ۱ د کتلي اوزور کلمي ......... | ۲۹ |
| ۲ . ۲ د نیوتن بنسټیز لار( قاونو)..... | ۳۰ |
| . ۳ - په یوې تلوني-لارد بیرې کچونه: | ۳۲ |
| ۲ . ب – ازاده غورځونه.................. | ۳۶ |
| پوښتني او اوبیوني............................ | ۳۹ |
| ۳ . انرژي، کار او توان | ۵۵ |
| . الف – د انرژي بیلابیل ډولونه | |
| ۳ . ۱ خوژښتتن، راکښلی فنر | ۵۵ |
| ۳ . ۲ - جګشوی تن د جګوالي انرژي لري | ۵۶ |
| ۳ . ۳ انرژي سره څه پیښږي ؟ | ۵۷ |
| ۴ – انرژي ساتنه، انرژي بدلیدنه | ۵۸ |
| ۴ . ۱ - انرژي په ډېرو بنو منځ ته راځي | ۵۸ |
| ۴ . ۲ - په راتړلي – یا بند سیستمکي د انرژي | ۵۹ |
| ۴ . ۳ – د انرژي کچونه او شمیرنه | ۶۰ |
| د انرژي او زور په منځ کې تویې | ۶۴ |
| ۴ . ۴ - انرژیساتونجمله یا د انرژي | ۶۸ |
| ۴ . ۵ -: انرژي، انرژي له سیستم پولي اوړي | ۶۹ |
| ۵ . توان او انرژي | ۷۵ |
| ۵ . ۱ - انرژي ځومره زر وړل کیږي | ۷۵ |
| ۵ . ۲ - انسان په واټ کچ شوی | ۷۷ |
| ترینونه | ۸۰ |
| ۶ – هارمونیکي اړځیدنه | ۱۳۰ |
| ۶ . ۱ - لړزېدنه اوڅپې | ۱۳۰ |
| ۶ . ۲ -هارمونیک لړزېدنه | ۱۳۲ |
| د ډاکتر ماخان ( میرې) شینواري کتابونه | ۱۴۵ |
| د ډاکتر کاخان ژوند ته لنډه کتنه | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

له هغه وخته چې د شمیرپوهنې لیکنوسره مې پرېکون کړې، غوښتل مې چې سم زوړشم اودمه وکړم، خوداسې نه کیږي. چرتونه اوفکرونه ډېرېږي، نه پوهیږم څه وکړم.

دا چې فزیک مې څنګېزمسلک دی، ومې غوښتل، چې فزیک هم تر یوې کچې په پښتو کړم. ستونځمن دی، خوستاسوپه مرسته به یوې لارې ته سم شي.

په پښتو هره پوهنه نابلده ده، خوپوهوړ اوساده ده. نابلدتیا هم پخپله یوه ستونځه ده، خوځوواره بیا بیا ویل یې بلدتیا ته لارښودوي.

له دې وروسته به د فزیک وړې وړې برخې تاسو ته - ستاسود مشوروله پاره- وړاندې شي.

پوهنه په پښتواسانه ده

زما وتونژبه ( ماته د ،، ترې ژبارې ژبه،، یا ،، ترې رانیولې ژبه،، څخه ،، وتونژبه،، ښه برېښي) الماني ده. که د لاسه مې پوره شوه، په انګرېزي به همدا نومونه واړوم اوپه عربي هم.

په نومونوکې تخنیکي نومونه راځي، چې زه هم ورسره ستونځې لرم، خوهغه بیا لړیپه خبرو یوډول روښانه کوم.

د پوهنیزو کتابونو لیکل لیکونکي ته همدومره ستونځمن او پوهوړدي، لکه لوستونکوته، ځکه چې پوهنه په پښتو نه ده. هر څه چې ورسره مخامخ کیږو، هغه راته ورځني نه دي.

سړی ورسره ستړی کیږي اونومونوکې به هم فکر وکړي، چې که دا داسې وي او یاداسې دا به ښه وي. زه په دې هکله د هر چاد اند سره هم اند یم، خو دومره به وwایم، چې ریښنه او زما د اوږدو کلونو تجربه دا راته اسانه وي، چې مناسب نومونه ورته په خپله ژبه کې پیدا کړم.

هغه نومونه چې یوه مسلکي له لې ژیې رااړولې وي، باور په کړی، چې دومره به خرابه وي. د نومونو نومول یا راژباړل د هغه شي د خوي د پیژندلوسره سیده اړیکې لري، اومسلکي ی په خوي پوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوي څښتن په نامه

۰ - فزیک پیل

۰ . ۱ - میښانیک Mechanik :

میښانیک په پیداښتي پوهنو او انجنري کې د بدنونویا تنونو خوزښت او له دې سره اغیزمن زور - - یا اغیزمنې قوې پوهنه ده. په فزیک کې د میښانیک لاندې موړتولګیز میښانیک پوهیږو.

یادونه: تنونه د خوي له مخې نومولشوي. زموږپه ادبیاتو کې په ناسمه توګه بهیدونکوته اوبلن ویلکیږي، هیله ده زموږلیکوالان به دې ته پام وکړي.

څه چې بهیږي، بهیدونکي دي اونه اوبلن. اوبلن د اوبویوخوي دی، چې د کلک - اوبهیدبدنونو په منځ کې دی.

بیایې پیژند:

۱ – هغه تنونه چې بې له دباندني اغیز نه بیلیږي یعنې کلک وي، کلک بدنونه بللکیږي.

۲ – هغه بدنونه، چې بې له دباندني اغیز بهیږي، بهیدونکي تنونه بلل کیږي( اوبلن نوم ناسمدی او د بهیدنځوي سره سم نه دی).

۳ – هغه تنونه چې بې له دباندني اغیز تښتي یعنې هرپلورته تښتي یا زغلي، تښتیدونکي – یا غازي تنونه یا غاز بلل کیږي.

**ټولګیز میښانیک** Klassische Mechanik:

ټولګیز میښانیک یا د نیوتون میښانیک د فزیک برخه ده، کومه چې د کلکو، بهیدونکو اوتښتیدونکو یا غازي تنونو خوزښت د قوې یا زورد اغیز لاندې څیړي.

کینماتیک **Kinematik** (خوزښتپوهنه) څه شی دی؟

خوزښت د میښانیک یوه برخه ده، چې د تنونو خوزښت سوچه ځمککچیز تشریح کوي یا ششنیزښایي د لویوالي، وخت او ځای سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوزښتپوهنه یا کینماتیک او د هغې قوانین دي، بې له دې چې د خوزښت لامل او خوزښتتغیر د څیړنې لاندې نیسي.

۱ – د کرښیژ خوزښت کینماتیک

۱ . د فزیکپوه کارډول

۱ . ۱ - فزیکپوه څنګه کار کوي؟

- چاپریال په غړولوسترګو ګوري

- پرابلمونه پیژني اوپوښتني کوي

- په پوښتنوکې فکر کوي او د ممکنه ځوابونو له پاره ګومانونه په فرمولونو کې راولي او فرمولبندي کوي یې.

- د ځوابونو پیدا کولو له پاره تجربې کوي

- د تجربولاسته راوړنه فرمولبندي کوي او تولیز کوي یې.

- کله کله له کچلړیو فرمولونه راوباسي.

## ۱ . ۲ - فزیکي لویې

د فزیکي کاروایو د شننولو له پاره سړی کلمې کاروي، چې دا د فزیکي لویو په نامه نومول کیږي، د بیلګې په توګه لار، وخت یا قوه( زور).

د دې له پاره چې فزیکي قوانین کچونلړی ( د کچونې لړۍ) په مرسته ومیندل شي( پیدا کړی شي) ، باید دا کاروونې ( په کار اچوونې) فزیکي لویې کچوړ وي.

کچول په دې معنا دي، چې یوه فزیکي لویه د بیلګې په توګه د یوې لارې اوږدوالی، د یوه کره شوي یوون( واحد) سره پرتله کړي. له دې امله د کچونلاس ته راړنې زیات وخت له دوه ورکړو څخه جوړدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



<u>کچګڼ اوکچیوون (د کچه ونې ګن او د – یوون یا واحد):</u>

<u>بیلګه:</u> اوږدوالی دوه متره ( L=2m)

اوږدوالیL فزیکي لویه ده..

ګڼ ۲ کچګڼ ( یا ګڼ ارزښت) دی.

توری m د کچیوون پیژند نخښه په نخښه کوي.

یوه فزیکي لویه د کچګڼ او کچیوون سره ټاکل کیږي.

د دې له پاره چې د فزیکي لویو سره کار وکړو، موخه ور دی، چې داسې په نامه بنسټ لویې او یوونونه چمتو کړو.

<u>بنسټیوونونه یا - واحدونه</u>

بنسټیزلویې او د هغوي یوونونه په <u>SI</u> ( بین المللي یوونسیستم) کې.

۱ – اوږدوالی : د اوږدوالي **l** بنسټیوون متر( 1 m ) دی.

۲ – کتله : د کتلې **m** بنسټیوون کیلوګرام ( 1 kg ) دی.

۳ – وخت: د وخت **t** بنسټیوون ثانیه ( 1 s ) دی.

۴ – بریښنا - یا بهیدنقوت: دبریښنایي بهیدنقوت**I امپیر** ( 1 A ) **Ampere دی.**

۵ – تودوخي: د تودوخي T بنسټیوون کلوین ( 1 K ) Kelvin دی.

۶ – رڼا زور: د رڼازور**I** بنسټیوون ( 1 cd ) **Candela** دی.

نورې ټولې فزیکي لویې د دې پورته بنسټلویو څخه منځ ته راځ

بیلګه: چټکتیا = د لار وېش په وخت

بیلګه: $\text{Geschwindigkeit} = \frac{\text{Weg}}{\text{Zeit}} \quad v = \frac{s}{t} \quad v = \frac{10\,\text{m}}{5\,\text{s}} = 2\frac{\text{m}}{\text{s}}$ = چټکتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ . ۵ - داتنDaten : په تولیزه د داتن لاندې سرې ورکړې ارزښتونه یا فرمولوړ میندنې پوهیږي، چې د نورو په څنګ کې د کچونو او کتنو له لارې لاس ته راوړل کیږي. په تولیزه ژبه د دې لاندې سرې ورکړنې، ربشتیایینې اوپیښې پوهیږي.( له ویکي څخه)

| | |
|---|---|
| | Daten ،،کچ ارزښتونه،، |
| Daten<br>د لاندیپېښتو په ترتیب:<br>لمر، وړانګه، کتله، تینګوالی | ارزښتونه چې د کچونوله لارې منځ ته راغلي .<br>که غواړی لاندې داتن پخپله شمیرنیز ولیکی. |
| Sonne:<br>Radius = 696350km<br>Masse = $2 \cdot 10^{30}$kg<br>Dichte = $1,41\frac{kg}{dm^3}$ | لمر<br>وړانګه = ۶۹۶۳۵۰ کیلومتر<br>کتله = ۲ ځله۱۰ په جګ ۳۰ کیلومتره<br>تینګوالی= ۱،۴۱ کیلوګرام پر دیسیمتر مکعب |
| Erde:<br>Radius = 6378 km<br>Masse = $6 \cdot 10^{24}$kg<br>Dichte = $5,51\frac{kg}{dm^3}$ | ځمکه<br>وړانګه=۶۳۷۸ کیلومتر(ک م)<br>کتله = ۶ ځله ۱۰ په جګ ۲۴ کیلوګرامه<br>تینګوال= ۵،۵۱ ک ګ پر دم مکعب |
| Mond:<br>Radius = 1738 km<br>Masse = $7 \cdot 10^{22}$kg<br>Dichte = $3,34\frac{kg}{dm^3}$ | سپوږمی<br>وړانګه= ۱۷۳۸ ک م<br>کتله = ۷ ځله ۱۰ جګ ۲۲ ک ګ<br>تینګوال = ۳،۳۴ک ګ پر د م جګ ۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱. Gleichförmige Bewegung برابرېوله خوزښت

. ب - د نابرابر ډوله خوزښتونو کتنه (مشاهده):

په ورځني ژوند کې نږدې هر چيرته موږ د خوزښتونو سره سر اوکار لرو

- الوتکه په هوا کې خپله نخښه پرېږدي

- د څراغ په مخ کې موټر تموونکی يا درونکی (بريک ) وهي.

- يو ډبډبي چلونکی د ډېر ډرار سره ډبډبی چالانوي

- يوه غونډوسکه يا توپ په يوه ځګه لينده په هوا کې الوزي.

ازماېښت

د لاندې خوزښتونو تجربه

- برابربنيز خوزښت

- بتي شوی خوزښت

- په بيړه (شوی) خوزښت

کتنه- د يوه بتي خوزښت سره چټکتيا کميږي..

- په بيړه خوزښت سره چټکتيا زياتيږي.

-په بيړه خوزښت

- که يو تن (تل) همغه ( ثابته) چټکتيا ولري، نو خوزښت برابر بنيز يا برابرډوله دی.

کتنه:

د يوه بتي خوزښت سره چټکتيا کميږي

د يوه په بيړه خوزښت سره چټکتيا زياتيږي.

که يوتن يا بدن همغه(ثابته) چټولري،نوخوزښت برابربنيز دیَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسبتي سیستم:  په فزیک کې یو نسبتي سیستم یو فکر پرې شوی هوا-وختیز جوړښت دی، چې غواړي  د وختواک کې لویې یواځنی او پوره تشریح کړي( وښودلی شي). په ځانګړې توګه کیدی شي د یوه فزیکي تن ځای اوخوزښت فقط نسبي  یوه نسبتي سیستم ته ورکړل شي.

۱ . ۲ ب - نسبتي سیستم:

حالت:زه په ګاډیتمځای کې ګاډي کې ناست یم. په مخامخ پټلیو هم یو ګاډی ولاړ دی. له دواړوګاډیو یوپه خوزښت راځي.

دا کوم یو دی؟

زه په یوه ۱۰۰ تمپو یا تلنه تلوني ګاډي کې په منډه ځم. زه په کومه چټکتیا خوزم؟

زه په یوې څرخیدونې زینه ځغلم. زما چټکتیا وچاپیریال ته بله ده نسبت و زینې ته.

د دېله پاره چې په همغه چټکتیا روښانه وینا وکړی شم، نویو ټکي یا یوه شي ته اړتیا لرم، چې هغه سره ځان په تړاوکې راولم.

د دې له پاره فزیکپوه  له یو نسبتي سیستم څخه کار اخلي.

نسبتي سیستمونه خپلواک ټاکلوړدي یا ټاکل کیږي.

دا کیدی شي:

د لابراتوار میز، غالی( د کورهواره)، د ځمکې سر،لمر، د دلدل لار او داسې نور وي.

۱ . ۲ پ - خوزښت د برابرپاتیکیدونکې چټکتیا سره

ازمایښت

یو واګون د برابربنیز خوزښت سره په خوزښت راځي. د درولکیدونکي ساعت سره هغه د یوه ټاکلي کرښي وهلو وخت په اندازه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا  ازماېښت د بیلابیلې چټکتیا سره سرته رسیږي.

په کچ شوي ارزښتونه په یوه لښتکي یا جدول کې ځای په ځای کیږي.

**کچلښتکی یا - جدول Messtabelle**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| s/m | 14 | 28 | 35 | 56 | 70 |
| t/s | 2 | 4 | 5 | 8 | 10 |
| v = s/t | 7 | 7 | 7 | 7 | 7 |

د لښتکي ارزښتونه کیدی شي ګرافیکي په یوه لیدخیره کې انځور شي




منځ ته راځي. لار – وخت –دیاګرام او  چټکتیا- وخت – دیاګرام

موږ لاندې پرېکړې کوو:

چټکتیا:

چټکتیا  =  لار وېش په وخت

ټولګه: په برابربنیزخوزښتونو کې وهلې لار د دې له پاره اړین وخت سره متناسب ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په برابر وخت کې برابرې لارې وهل کیږي.

د ،،لار په وخت وېش،، تل همغه(ثابت) دئ.

دا چټکتیا بلل کیږي.

$$v = \frac{s}{t}$$

که دا برابرون په خوزښتونو چې برابربنیزنه دي وکارول شي، نو منځ ارزښت چټکتیا راکوي یا ګډغوځي چټکتیاAverage speed

.

تمرینونه او اوبیونې یې:

۱ - په موټرلارپه هر ۵۰۰ متره کې لیکتختې درولشوې د کیلومتر ورکړې سره.

یوسړی د تلوني موټر څخه ګوري، چې هر ۵۰۰ م په ټیک ۱۵ ثانیوکې وهل کیږي.

دا موټر د کومې چټکتیا(کیلومتر په ساعت) سره ځغلي؟

پوره اوبي:پېښتوېپلهکېن ښیلورته؛ ورکړی ، غوښتونی

geg. $s = 500\,m \quad t = 15\,s \quad$ ges. $v$ in km/h

$$s = 500\,m = 0{,}5\,km \quad t = 15\,s = \frac{1}{240}h$$

$$v = \frac{s}{t} = \frac{0{,}5\,km}{\frac{1}{240}h} = 0{,}5 \cdot 240\,\frac{km}{h} = \underline{\underline{120\,\frac{km}{h}}}$$

موټر $v = 120$ km/h د چټکتیا سره ځغلي

۲ - د چټکتیا بدلشمیرنه

الف – یو شی په (تل)همغه چټکتیا$v = 1$ m/s ځي. چټکتیا په km/h څومره لویه ده؟

ب – یو شی په همهغه چټکتیا $v = 1$ km/h ځي. چټکتیا په m/s څومره لویه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبی

الف-

۳ - یو موټرسایکل په یوه ۳۰ ثانیو مهالغزونه کې ۱۰۰۰ متره واټن وهي.د هغه منځچټکتیا په m/s او km/h کې وښایی.

پوره ښوونه: ورکړي.geg، غوښتوني.ges

$$\text{geg. } t = 30\,s \quad s = 1000\,m \quad \text{ges. } v \text{ in } m/s \text{ und in } km/h$$

$$v = \frac{s}{t} = \frac{1000\,m}{30\,s} = 33{,}\bar{3}\,\frac{m}{s}$$

$$v = \frac{s}{t} = \frac{1\,km}{\frac{1}{120}\,h} = \frac{\frac{1}{1}}{\frac{1}{120}}\,\frac{km}{h} = \frac{1\cdot 120}{1\cdot 1}\,\frac{km}{h} = 120\,\frac{km}{h}$$

د موټرسایکل منځنی چټکتیا v = 120 km/h همداسې 33,33.. m/s ده.

۴ –یو ډې –ګاډی( D- Zug ) کوم منځنی چټکتیا لري، چې په 9:05 له دوسلدورف څخه خوزي او ټیک په 12:35 Uhr لرېوالي245 km کې فرانکفورت ام ماین ته رسیږي؟

اوبی: ورکړي.geg، غوښتوني.ges

$$\text{geg. } 9:05 - 12:35 \quad s = 245\,km \quad \text{ges. } v$$

$$t = 9:05 - 12:35 = 3{,}5\,h$$

$$v = \frac{s}{t} = \frac{245\,km}{3{,}5\,h} = 70\,\frac{km}{h}$$

ګاډی یوې 70 km/h منځنی چټکتیا ته رسیږي.

۵ – یو بار وړونکی موټر له کابل څخه په موټرار ځي. تلنلار نږدې 162,5 km ده.ټول ترې یا خوزښت له 8:00 Uhr تر 11:15 Uhr پورې

وحت نیسي.

الف- د لاری منځنی چټکتیا وشمری،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب – له کابل څخه ترسروبي پورې 75 km ده. هلته لارې نږدې په څوبجورسیږي؟

اوبی: ورکړي.geg، غوښتوني.ges

$$\text{geg. } 8:00-11:15 \quad s = 162{,}5\text{ km} \quad \text{ges. } v$$
$$t = 8:00-11:15 = 3{,}25\text{ h}$$
$$v = \frac{s}{t} = \frac{162{,}5\text{ km}}{3{,}25\text{ h}} = 50\ \frac{\text{km}}{\text{h}}$$

د موټر منځنی چټکتیا 75 km ده.

ب – ورکړي.geg، غوښتوني.ges

$$\text{geg. } s = 75\text{ km} \quad v = 50\text{ km/h} \quad \text{ges. } t$$
$$v = \frac{s}{t} \Rightarrow t = \frac{s}{v} = \frac{75\text{ km}}{50\ \frac{\text{km}}{\text{h}}} = \frac{75}{50}\ \frac{\frac{\text{km}}{1}}{\frac{\text{km}}{\text{h}}} = 1{,}5\ \frac{\text{km}\cdot\text{h}}{1\cdot\text{km}} = 1{,}5\text{ h}$$

رسیدنمهال 9:30 دی.

۶ – پر لمر د زمکې تنلار کیدی شي د یوې ګردۍ سره چې وړانګه

یې r = 150 Millionen کیلو متره ته را نږدې کیدی شي. زمکه په لمر په کال کې یو وار(1a = 365 d ) راګرځي.

الف- په یو کال کې زمکه څومره لار تی کوي؟

ب – د کومې چټکتیا سره ( په km/s ) زمکه په لمر راګرزي؟

اوبی

الف- ورکړي.geg، غوښتوني.ges

$$\text{geg. } r = 150\cdot10^6\text{ km} \quad t = 365\text{ d} \quad \text{ges. } s$$
$$s = U = 2\pi\cdot r = 2\pi\cdot150\cdot10^6\text{ km} \approx 942\cdot10^6\text{ km}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمکه په کال کې نږدې 942 000 000 km لار وهي.

ب – ورکړې.geg، غوښتوني.ges

$$\text{geg. } s = 942 \cdot 10^6 \text{ km} \quad t = 365 \text{ d} \quad \text{ges. } v \text{ in km/s}$$

$$t = 365 \cdot 24 \cdot 3600 \text{ s} = 3{,}65 \cdot 2{,}4 \cdot 3{,}6 \cdot 10^6 \text{ s}$$

$$v = \frac{s}{t} = \frac{2\pi \cdot 150 \cdot 10^6 \text{ km}}{3{,}65 \cdot 2{,}4 \cdot 3{,}6 \cdot 10^6 \text{ s}} \approx \underline{\underline{29{,}886 \frac{\text{km}}{\text{s}}}}$$

زمکغونداری په لمر د نږدې 29,886 km/s چټکتيا سره راګرځي.

۷ – رڼه په يوه ثانيه کې 300.000 km واټن وهي. واټن زمکه – لمر نږدې 150 Millionen km دی.

څومره وختته اړتيا رڼه له لمرڅخه و زمکې ته رسيږي.

اوبې: ورکړې.geg، غوښتوني.ges

$$\text{geg. } v = c = 300000 \text{ km/s} \quad s = 150 \cdot 10^6 \text{ km} \quad \text{ges. } t$$

$$v = 3 \cdot 10^5 \text{ km/s}$$

$$v = \frac{s}{t} \Rightarrow t = \frac{s}{v} = \frac{150 \cdot 10^6 \text{ km}}{3 \cdot 10^5 \frac{\text{km}}{\text{s}}} = \frac{150}{3} \cdot 10^1 \frac{\text{km}}{\frac{\text{km}}{\text{s}}} = 500 \frac{\frac{\text{km}}{1}}{\frac{\text{km}}{\text{s}}} = 500 \frac{\text{km} \cdot \text{s}}{1 \cdot \text{km}} = \underline{\underline{500 \text{ s}}}$$

رڼا د لمر څخه تر زمکې پورې$t = 500$ s ته همداسې 8 minاو ۲۰ ثانيو ته اړتيا لري.

۸ – غږ چټکتيا 326 m/s ده. يو پلې يوه لوي د کمره ديوال ته ولاړ دی او،،هلو،، وايي. هغه د ۱۰ ثانی وروسته دا انګيزه( انګازه) اوري. دا د کمره ديوال د پلې څخه څومره لرې دی؟

اوبی: وکړشوي: $v = c = 326 \text{ m/s} \quad t = 10 \text{ s}$ ښوغتوني: ګاډيته لرېوالی= e

غږيوه لار وهي، چې ډبل يا دوه برابره لرېوالی په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$v = \frac{s}{t} \Rightarrow s = v \cdot t = 326\,\frac{m}{s} \cdot 10\,s = 3260\,\frac{m \cdot s}{s} = 3260\,m$$

$$e = \frac{s}{2} = \frac{3260\,m}{2} = \underline{\underline{1630\,m}}$$

کمره ته لريوالی $e = 1630$ m دی.

۹ - د دلدل لار $d = 7 \cdot 10^{17}$ km نیمی ( قطر) لري. د لمرلرېوالی د دلدل له لارې $e =$ $25 \cdot 10^{16}$ km دی. دتلسکوپ لرلیدتوتي سره پرته له دې سرې کرې شي د دلدل د لارې هغه دباندنی لمر وګوري.

له هغي خایه دا رڼا له زمکي څومره په لار وه.

اوبی: ورکړي.geg، غوښتوني.ges

| | |
|---|---|
| <br>کيڼ لورته د الماني پښتو:<br>ورکړي، غوښتوني وخت په کلونو،<br>وخت په کلونو.<br>کلونه | gegeben $e = 25 \cdot 10^{16}$ km $d = 7 \cdot 10^{17}$ km<br>$v = c = 300000\,km/s$<br>gesucht Zeit t in Jahren<br>$s = e + r = e + \frac{d}{2} = 25 \cdot 10^{16}\,km + 3{,}5 \cdot 10^{17}\,km$<br>$= 25 \cdot 10^{16}\,km + 35 \cdot 10^{16}\,km = 60 \cdot 10^{16}\,km$<br>$v = 300000\,km/s = 3 \cdot 10^{5}\,km/s$<br>$v = \frac{s}{t} \Rightarrow t = \frac{s}{v} = \frac{60 \cdot 10^{16}\,km}{3 \cdot 10^{5}\,\frac{km}{s}} = 20 \cdot 10^{11}\,\frac{\frac{km}{1}}{\frac{km}{s}}$<br>$= 200 \cdot 10^{10}\,\frac{km \cdot s}{1 \cdot km} = 200 \cdot 10^{10}\,s$<br>$t = 1a = 365 \cdot 24 \cdot 3600\,s = 3{,}65 \cdot 2{,}4 \cdot 3{,}6 \cdot 10^{6}\,s$<br>Zeit in Jahren: $t = \frac{200 \cdot 10^{10}\,s}{3{,}65 \cdot 2{,}4 \cdot 3{,}6 \cdot 10^{6}\,s}$<br>$= 6{,}342 \cdot 10^{4}$ Jahre $= \underline{\underline{63420 \text{ Jahre}}}$ |

زموږ د دلدل لار د ژی رڼا 63420 کاله په لارده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ . ۳ - برابرډوله په بیړه خوزښت:

۱ . ۳ . الف - د بیړې مفهوم ( د بیړې ترې پوهیدنه) یا بیړه څه شی دی؟

پرابلم:

هوګی وایي:زما ماشین په ۲۰ ثانیو کې له ۰ څخه ۱۸۹ ته جګیږي.

سمون یې په مخامخ وایي: زما ۵۰۰ م پوره کوي.

پوښتنه:

دا پرتلونه څه په ګوته کوي؟

کوم ماشین ښه دی؟

خبره د بیړې ده.

ددې له پاره چې ددې لاندې ټول برابرشی یا همغه یوشی وپوهیږو، غواړو،چې لاندې پیژند ورکړو:

پیژند:

بیړه = د چټکتیازیاتیدنه وېش پر اړین وختواټن

$$\text{Beschleunigung} = \frac{\text{Geschwindigkeitszunahme}}{\text{benötigte Zeitspanne}} = \frac{v_2 - v_1}{t_2 - t_1} = \frac{\Delta v}{\Delta t}$$

تجربه: موږ غواړو یوغونداری په یوه زوړنده تخته ورغړوو اودا په ځټ وهل شوې لار د 1s, 2s 3s وروسته غواړو وشمیرو.

کتنه: موږ کره کوو، لکه څنګه د برابر پاتیکیدونکې چټکتیا سره مهالمتناسب نه ده. په هره ثانیه کې وهلشوې ټوټه-لار لوییږي.

که د یوه په بیړه خوزښت یا تګ سره د چټکتیا زیاتیدنه په برابر مهالبرخو کې تل برابره لویه وي، نو د یوه برابرډوله په بیړه خوزښت څخه غږیږو، یعنې بیړه خوزښت یا بل ډول وینه یې چټکتیا د مهال سره متناسب (زه به دا داسې وبولم: ،،په ... وته پرتلونه،،) لوییږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایو: چټکتیا و مهال ته ...ده. دلته چټکتیا په مهال وېشل کیږي.

۱ . ۳ .ب - د لار – مهال – لار(قانون) رابیلیدنه

پرابلم څه دئ؟

هغه لار څومره اوږده یا لویه ده، چې یوتن یې تی کوي، ترهغې چې د یوه برابرډوله بیړې له لارې یو ټاکلی پای چټکتیا ته رسیږي؟

که یوبدن برابر ډوله په بیړه شي ( تل همغه a = konstant ) ، نو هغه د یوه مهالt څخه چټکتیا v ته رسیږي.

د چټکتیا – مهال- لار(قانون) داسې ده:




$$a = \frac{\Delta v}{\Delta t} = \frac{v_2 - v_1}{t_1 - t_2}$$

$$v_e = a \cdot t_e$$

$$(1) \quad v = a \cdot t$$

ګراف په چټکتیا – مهال – دیاګرام کې یوه کرښه انځوروي، چې ځګیدنه یې ،، بیړه – ارزښت،، دئ.
د منځنۍ چټکتیا له پاره باور لري:




$$\langle v \rangle = \frac{v_e}{2} = \frac{a \cdot t_e}{2} = \frac{a \cdot t}{2}$$

$$\Rightarrow \quad (2) \quad \langle v \rangle = \frac{a \cdot t}{2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یاد ولره: که یو تن برابرډوله په بیړه شي، نو دا د مهال t وروسته چټکتیا v ته رسیږي.

له دې سره وهلشوې لار ده: $s = \langle v \rangle \cdot t$

د ( ۲ ) فرمول $\langle v \rangle = \frac{a \cdot t}{2}$ سره لاس ته راځي: $s = \frac{a \cdot t}{2} \cdot t = \frac{a \cdot t^2}{2}$

له دې سره لار – مهال – لار( قانون) له پار باور لري

برابرډوله تلنه یا خوزښت: $s = \frac{a \cdot t^2}{2}$

د یوې ټیک کچلړۍ بیلګه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| $v[m/s]$ | 6 | 12 | 15 | 24 | 30 |
| $t[s]$ | 2 | 4 | 5 | 8 | 10 |
| $a = v/t\left[m/s^2\right]$ | 3 | 3 | 3 | 3 | 3 |
| $s = \frac{a \cdot t^2}{2}[m]$ | 6 | 24 | 54 | 96 | 150 |




په ۲۰ ثانیوکې له ۰ و ۱۸۰ ته چګیدنه. زه د دې له پاره ۵۰۰ م ته اړتیا لرم.

شمیرنه:

بیرته وتونپوښتنې ته

الف- هولګر: ،،په ۲۰ ثانیو و ۱۸۰ ته،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب – ،،سون- زه ددې لپاره ۵۰۰ م اړتیا لرم،،

پوشتنه ده: کوم ماشین لویه بیړه لري؟

الف - ورکړی:.... غوښتونی:

a.) gegeben : v = 180 km/h t = 20 s gesucht : a

$v = 180\ km/h = 180000\ m\ /\ 3600\ s = 50\ m/s$

$$v = a \cdot t \quad \Rightarrow \quad a = \frac{v}{t} = \frac{50\frac{m}{s}}{20s} = 2{,}5\frac{m}{s^2}$$

د هولکرماشین د بیړې $a = 2{,}5\frac{m}{s^2}$ توان لري.

ب - ورکړې دې وي:

$v = 180\ km/h = 50\ m/s \qquad s = 500m$

غوښتونې: a

$$(1)\quad v = a \cdot t \qquad (2)\quad s = \frac{a \cdot t^2}{2}$$

دا دوه برابرونونه د،د دوه اووښتونویا متڅولوسره.

اوبي د ایینووني له لارې لاس اه راځي.

برابرون ( ۱ ) په t پسې بڼه بدلیږي یا اړوو: $t = \frac{v}{a}$
په ( ۲ ) کې ځای په ځای کړي

$$\Rightarrow s = \frac{a \cdot \left(\frac{v}{a}\right)^2}{2} \Rightarrow s = \frac{a \cdot \frac{v^2}{a^2}}{2} = \frac{v^2}{2a} \quad \Rightarrow \quad a = \frac{v^2}{2s}$$

اوس اربښتونه ځا په ځای کیږي $v = 50\ m/s, \quad s = 500\ m$

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$a = \frac{v^2}{2s} = \frac{(50\frac{m}{s})^2}{2 \cdot 500m} = 2,5\frac{m}{s^2}$$

د سون (نوم دیَ )ماشین د $a = 2,5\frac{m}{s^2}$ د بیړې توان توان لري

له دې سره دواړه ماشینونه برابر ارزښته دي

پوښتنې اواوبیونې

۱ – یو ځغاستموټردهمغې د $a = 5\ m/s^2$ بیړې سره پیل کوي.

الف- د وروسته کومه چټکتیا ته رسیږي؟ ( په m/s او km/h کې)

ب – هغه په 10 s کې وهلشوې لار څومره لویه ده؟

اوبی:

الف- ورکړی $a = 5\frac{m}{s^2}$ $t = 10s$ غوښتوني v په m/s کې او km/h

$$v = a \cdot t = 5\frac{m}{s^2} \cdot 10s = 5 \cdot 10\frac{m \cdot s}{s^2} = \underline{50\frac{m}{s}} = 50 \cdot 3,6\frac{km}{h} = \underline{180\frac{km}{h}}$$

د ۱۰ ثانیو وروسته ځغاستموټر چټکتیا v = 50 m/s = 180 km/h ته رسیږي.

ب – ورکړې $a = 5\frac{m}{s^2}$ $t = 10s$ غوښت,نې s

$$s = \frac{a \cdot t^2}{2} = \frac{5\frac{m}{s^2} \cdot (10s)^2}{2} = \frac{5\frac{m}{s^2} \cdot 100s^2}{2} = \frac{5 \cdot 100\frac{m \cdot s^2}{s^2}}{2} = \frac{500}{2}m = \underline{\underline{250m}}$$

هغه په ۱۰ ثانیوکې وهلشوې لار ۲۵۰ م ده.

۲ – د دوه موټرسایکلونوسره د بیړې ازماېښت کیږي.

موټرسایکل نمره ۱ د ۱خ ثانیووروسته v = 100 km/h چټکتیا ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټرسايکل نمره ۲ 100 m کيلې يا لار ته اړتيا لري چې 100 km/h پاى بيړې ته راشي.

کوم موټرسايکل خورا لوي بيړې- ارزښت ته رسيږي يا بيړه ارزښت غوره کوي؟

اوبيونه: ورکړي.geg، غوښتوني.ges ، موټرسايک ۱ ، - ۲

$$\text{geg. } M_1: \quad t_1 = 10\,s, \quad v = 100\frac{km}{h} \qquad \text{ges. } a_1, \quad a_2$$

$$M_2: \quad s = 100\,m, \quad v = 100\frac{km}{h}$$

$$v = 100\frac{km}{h} = \frac{100}{3{,}6}\frac{m}{s}$$

$$\text{Motorrad 1: } v = a_1 \cdot t_1 \Rightarrow a_1 = \frac{v}{t_1}$$

$$\text{Motorrad 2: } v = a_2 \cdot t_2 \Rightarrow t_2 = \frac{v}{a_2} \Rightarrow t_2^2 = \frac{v^2}{a_2^2}$$

$$s = \frac{a_2 \cdot t_2^2}{2} = \frac{a_2 \cdot \frac{v^2}{a_2^2}}{2} = \frac{v^2}{2 \cdot a_2} \Rightarrow a_2 = \frac{v^2}{2 \cdot s}$$

$$\frac{a_1}{a_2} = \frac{\frac{v}{t_1}}{\frac{v^2}{2 \cdot s}} = \frac{v \cdot 2s}{t_1 \cdot v^2} = \frac{2s}{t_1 \cdot v} \Rightarrow a_1 = \frac{2s}{t_1 \cdot v} \cdot a_2$$

$$a_1 = \frac{2s}{t_1 \cdot v} \cdot a_2 = \frac{2 \cdot 100\,m}{10\,s \cdot \frac{100}{3{,}6}\frac{m}{s}} \cdot a_2 = \frac{\frac{200}{1}}{\frac{1000}{3{,}6}} \cdot a_2 = \frac{200 \cdot 3{,}6}{1 \cdot 100} \cdot a_2 = 0{,}72 a_2$$

$$\underline{\underline{a_1 = 0{,}72 a_2 \Rightarrow a_1 < a_2}}$$

موټر سيکل ۲ ډېر لوي بيړه ارزښت غوره کوي، ځکه چې دى: $a_1 = 0{,}72 a_2$

۳ – د $a = 5\ m/s^2$ لپاره د برابرډوله بيړې خوزښت يو v- t دياګرام وکاږى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې څخه د .3 .2 .1او4 ثانیو وروسته بیړه ولولئ

اوبیونه: ورکړي.geg، غوښتوني.ges ، ( پیل کرښه)

$$\text{geg. } a = 5\frac{m}{s^2}$$

$$t_1 = 1s,\quad t_2 = 2s \qquad \text{ges. } v_1,\quad v_2$$

$$t_3 = 3s,\quad t_4 = 4s \qquad v_3,\quad v_4$$

$$v = a \cdot t = 5\frac{m}{s^2} \cdot t \quad \text{(Ursprungsgerade)}$$

$$v(0) = 0 \quad v(5) = 5\frac{m}{s^2} \cdot 5s = 25\frac{m}{s}$$

$$v(1) = 5\frac{m}{s} \quad v(2) = 10\frac{m}{s}$$

$$v(3) = 15\frac{m}{s} \quad v(4) = 20\frac{m}{s}$$




د مخامخ المانیپښتو: پخوانیکرښه یا سرچینه بیزه کره

۴ – یو الوتکه، چې لومړه د 160 m/s په برابر پاتې کیونکې چټکتیا الوځي، په 15 s اوږدوالي د $a = 6{,}5\ m/s^2$ سره په بیړه کیږي.

دا نوبیا څومره چټکتیا لري؟

اوبیونه: ورکړي.geg، غوښتوني.ges

$$\text{geg. } v_1 = 160\frac{m}{s} \quad t = 15s \quad a = 6{,}5\frac{m}{s^2} \quad \text{ges. } v_2$$

$$v_2 = v_1 + a \cdot t = 160\frac{m}{s} + 6{,}5\frac{m}{s^2} \cdot 15s = 160\frac{m}{s} + 97{,}5\frac{m}{s} = 257{,}5\frac{m}{s}$$

د بیړې وخت وروسته الوتکه v = 257,5 m/s چټکتیا لري.

۵ – یو موترسایکل په همغه بیړه د درید ځای څخه د 45 m لار وهنې وروسته 30 m/s چټکتیا ته رسیږي.

دا څومره وخت ته اړتیا لري، بیړه یې څومره جګه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبيونه: geg ورکړه: غوښتنه: .ges

$$\text{geg. } s = 45m \quad v = 30m/s \quad \text{ges. } t, \quad a$$

$$v = a \cdot t \Rightarrow t = \frac{v}{a} \Rightarrow t^2 = \frac{v^2}{a^2}$$

$$s = \frac{a \cdot t^2}{2} = \frac{a \cdot \frac{v^2}{a^2}}{2} = \frac{v^2}{2a} \Rightarrow a = \frac{v^2}{2s} = \frac{900\frac{m^2}{s^2}}{90m} = 10\frac{m}{s^2}$$

$$t = \frac{v}{a} = \frac{v}{\frac{v^2}{2s}} = \frac{v \cdot 2s}{v^2} = \frac{2s}{v} = \frac{2 \cdot 45m}{30\frac{m}{s}} = \frac{90}{30}s = 3s$$

موټرسايکل $t = 3$ s ته اړتيا لري.بيړه يې $a = 10$ m/s$^2$ ده.

۶ – يوموټرله ۳ ثانيوروسته يوه چټکتيا 0,52 m/s تهرسيږي.

دا په ۳ ثانيو وهل شوې لارخومره لويه ده.

اوبيونه: geg ورکړه: غوښتنه:.ges

$$\text{geg. } t = 3s \quad v = 0{,}52m/s \quad \text{ges. } s$$

$$v = a \cdot t \Rightarrow a = \frac{v}{t}$$

$$s = \frac{a \cdot t^2}{2} = \frac{\frac{v}{t} \cdot t^2}{2} = \frac{v \cdot t}{2} = \frac{0{,}52\frac{m}{s} \cdot 3s}{2} = \frac{0{,}52 \cdot 3}{2}m = 0{,}78m$$

په ۳ ثانيوکې وهل شوې لار $s = 0{,}78$ m ده.

۷ – يوه بايسکلځغلونکي د دريدځای څخه بايکل تر. باندې پيل کوي. د ۵ ثانيو وروسته دا ۲۰ متره لار وهي. بيړه څومره لويه ده؟

اويونه: geg ورکړه: غوښتنه:.ges

$$\text{geg. } t = 5s \quad s = 20m \quad \text{ges. } a$$

$$s = \frac{a \cdot t^2}{2} \Rightarrow a = \frac{2s}{t^2} = \frac{2 \cdot 20m}{(5s)^2} = \frac{40m}{25s^2} = 1{,}6\frac{m}{s^2}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیره $1,6\ m/s^2$ ده.

۸ - یوګاډی له دریدځای څخه ۱۰ ثانیې وروسته 5 m/s چټکتیا ته رسیږي.

هغه څومره اورږد یا لرې تللی؟

اوبیونه: geg ورکړه: ges.:غوښتنه

$$geg.\ t = 10\,s \quad v = 5\frac{m}{s} \quad ges.\ s$$

$$v = a \cdot t \Rightarrow a = \frac{v}{t}$$

$$s = \frac{a \cdot t^2}{2} = \frac{\frac{v}{t} \cdot t^2}{2} = \frac{v \cdot t}{2} = \frac{5\frac{m}{s} \cdot 10\,s}{2} = \frac{5 \cdot 10}{2}\,m = \underline{\underline{25\,m}}$$

ګاډی s = 25 m لرې تللی یا خوزېدلی.

۹ – یو له همغږې بیرې سره خوزېدلی ګاډی په لومړیو ۱۲ ثانیوکې ۱۳۳ متره لرې ځي.

د ۱۲ ثانیووروستهبیره او چټکتیا څومره لویه ده؟

اوبیونه: بیره نږدې $1,85\ m/s^2$ ده.

چټکتیا نږدېي 22,2 m/s ده.

۱۰ – هغه دسیلګاډی "Millennium Force (USA)" د ناتمیدونکې بیرې سره خوزښت په 3,9 s کې له 28,8 km/h و110,7 km/h ته په بیره راځي.

الف –بیره څومره لویه ده(دا باید همغه یا ثابت ونیول شي)؟

ب – د بیرې لار څومره اوږده ده؟
اوبیونه: الف- geg ورکړه: ges.:غوښتنه

$$geg.\ t = 3{,}9\,s \quad v_1 = 28{,}8\,km/h \quad v_2 = 110{,}7\,km/h \quad ges.\ a$$

$$a = \frac{\Delta v}{\Delta t} = \frac{110{,}7\frac{km}{h} - 28{,}8\frac{km}{h}}{3{,}9\,s} = \frac{81{,}9\frac{km}{h}}{3{,}9\,s} = \frac{\frac{81{,}9}{3{,}6}\frac{m}{s}}{3{,}9\,s} = \frac{81{,}9}{3{,}6 \cdot 3{,}9}\frac{m}{s^2} \approx \underline{\underline{5{,}83\frac{m}{s^2}}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیره نږدې $5,83\ m/s^2$ ده.

ب – ورکړه: geg غوښتنه:.ges

$$geg.\ t = 3,9s \quad v_1 = 28,8\frac{km}{h} \quad a = \frac{81,9}{3,6\cdot 3,9}\frac{m}{s^2} \quad ges.\ s$$

$$s = v_1\cdot t + \frac{a\cdot t^2}{2}$$

$$v_1\cdot t = \frac{28,8}{3,6}\frac{m}{s}\cdot 3,9s = \frac{28,8\cdot 3,9}{3,6}m$$

$$\frac{a\cdot t^2}{2} = \frac{\frac{81,9}{3,6\cdot 3,9}\frac{m}{s^2}\cdot(3,9s)^2}{2} = \frac{81,9\cdot(3,9)^2\cdot m\cdot s^2}{2\cdot 3,6\cdot 3,9\cdot s^2} = \frac{81,9\cdot 3,9}{2\cdot 3,6}m$$

$$s = \frac{28,8\cdot 3,9}{3,6}m + \frac{81,9\cdot 3,9}{2\cdot 3,6}m = \frac{3,9}{3,6}\left(28,8 + \frac{81,9}{2}\right)m = \underline{\underline{75,5625\,m}}$$

چټکتیالار $s = 75,5625\ m$ ده.

۱۱ – یو غشي د یوې لیندۍ له تو‌ته ونې ( وتر) په یوه 0,6 m کیله په بیره کیږي. دا یوې 60 m/s چټکتیا ته رسیږي.

الف – ولې بیره همغه نه ده؟

ب – منځنۍ ، همغه نیول شوې بیره څومره لویه ده؟

پ – دا په بیرې مخته تګ څومره دوام کوي؟

اوبیونه:

الف- بیره همغه نه ده، ځکه چې زور ځان، چې د تو‌ته وونې په غشي واردوي، بدلیږي.

ب – ورکړه: geg غوښتنه:.ges

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$geg.\ s = 0{,}6\,m, \quad v = 60\,m/s \quad ges.\ a$$

$$v = a \cdot t \Rightarrow t = \frac{v}{a} \Rightarrow t^2 = \frac{v^2}{a^2}$$

$$s = \frac{a \cdot t^2}{2} = \frac{a \cdot \frac{v^2}{a^2}}{2} = \frac{v^2}{2a} \Rightarrow a = \frac{v^2}{2s} = \frac{\left(60\frac{m}{s}\right)^2}{2 \cdot 0{,}6\,m} = \frac{3600\frac{m^2}{s^2}}{1{,}2\,m} = \frac{3600}{1{,}2}\frac{m}{s^2} = 3000\frac{m}{s^2}$$

منځنی بیړه $3000\ m/s^2$ ده.

پ – geg: ورکړه غوښتنه: .ges

$$geg.\ v = 60\,m/s \quad a = 3000\,m/s^2 \quad ges.\ t$$

$$v = a \cdot t \Rightarrow t = \frac{v}{a} = \frac{60\frac{m}{s}}{3000\frac{m}{s^2}} = \frac{60}{3000}s = 0{,}02\,s$$

د چټکتیا مخ ته تګ $t = 0{,}02\ s$ دوام کوي.

۱۲ – یو تن په لومړی ثانیه کې د ځاي په ځای حالت څخه 20 cm لار وهي، په ۲ –مه ثانیه 60 cm په ۳ – مه ثانیه کې 100 cmلار وهي.

الف – یو s- t - دیاګرام وکاږی.

ب – کوم خوزښت مخ ته لرو؟

پ – دا تن له 1s, 2s, 3s وروسته کومه چټکتیا لري؟

ت – د ټولې لار د پاره یې منځنی چټکتیا څومره لویه ده؟

اوبیونه:

الف – د لومړی ثانیي وروسته 20 cm

د ۲ –مي ثانيي وروسته 20 cm + 60 cm = 80 cm

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۳ –مې ثانيي وروسته 180 cm = 100 cm + 80 cm لار وهل کيږي.

$$t_1 = 1s \Rightarrow s_1 = 20\,cm$$
$$t_2 = 2s \Rightarrow s_2 = 80\,cm$$
$$t_3 = 3s \Rightarrow s_3 = 180\,cm$$

ب – ګومان: برابرډوله په بيړه خوزښت.

له دې سره فرمول $s = \frac{a \cdot t^2}{2}$ باور لري.

$$s = \frac{a \cdot t^2}{2} \Rightarrow a = \frac{2s}{t^2}$$
$$a_1 = \frac{2s_1}{t_1^2} = \frac{2 \cdot 20\,cm}{1s^2} = 40\frac{cm}{s^2}$$
$$a_2 = \frac{2s_2}{t_2^2} = \frac{2 \cdot 80\,cm}{(2s)^2} = \frac{160\,cm}{4s^2} = 40\frac{cm}{s^2}$$
$$a_3 = \frac{2s_3}{t_3^2} = \frac{2 \cdot 180\,cm}{(3s)^2} = \frac{360\,cm}{9s^2} = 40\frac{cm}{s^2}$$

دا چې په ټولو درې حالتونوکې بيړه a = همغه ده، نو دا په رښتوني يو برابرډوله بيړه خوزښت دی.

ت – geg: ورکړه غوښتنه:

$$geg.\ a = 40\frac{cm}{s^2} \qquad ges.\ v(1s),\quad v(2s),\quad v(3s)$$
$$v = a \cdot t$$
$$v_1 = 40\frac{cm}{s^2} \cdot 1s = \underline{\underline{40\frac{cm}{s}}} \qquad v_2 = 40\frac{cm}{s^2} \cdot 2s = \underline{\underline{80\frac{cm}{s}}}$$
$$v_3 = 40\frac{cm}{s^2} \cdot 3s = \underline{\underline{120\frac{cm}{s}}}$$

منځنۍ چټکتيا 60 cm/s = <v> ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ - دینامیک Dynamik

دینامیک = خوزښتپوهنه د زور اغیزلاندې

همداسې

خوزښت، پرمخوده،، د اقتصادي ودې دینامیک،،

د سیده کرښیز خوزښت یا تلنې دینامیک

۲ . ۱ د کتلې اوزور کلمې (ترې پوهیدنې):

زور: زور یواځې سرې د هغه په اغیز پیژندلی شي، هغه کړی شي تنونه بڼه بدل کړي، تنونه ودروي اود تنونو تلنلوربدله کړي.

زور لویې، لوراوبریدټکی لري.

دا سرې په غشوسره انځوروي( زوروکتورونه)

دروندوالیزور(وزنزور): وزنزور زوردی، چې د هغې سره یو تن د زمکې له خوا راکښل کیږي.

دا ځایواکی دی،( د بیلګې په توګه دا په شپوږمۍ کې لږدی نسبت زمکې ته).

کچیوون: د زورکچیوون نیوټن(N) ,Newton دي .

د بیلګې په توګه: F = 10 N یا F = 0,2 N یا F = 100 N

کتله: هرتن یوه کتله لري.

دا د ،، دروندوالي،، او ،، لټوالي،، سره ځرګندیږي.

د یوه تن کتله ځایواکې نه ده.

دا په تله د کتلو- پرتلونې له لارې ټاکل کیږي ( د بیلګې په توګه په سپوږمۍ کې د یوې خښتې کتله په زمکه هم همغه کتله ده، یواځې په سپوږمۍ کې لږدروند دی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کچیوونونه: د کتلې کچیوونو کیلوګرام دی،

د بېلګې په توګه $m = 10\ kg$ یا $m = 100\ g$ یا $m = 10\ mg$




۲ . ۲ - د نیوټون زورلار(قانون): څه شی زر چالانیږي، ډېدبی او که بارموټر؟

د بیرې لویه د څه شي په واک کې ده؟

بیره د ماشین توان او کتله ټاکي.

ازماېښت: یو کتله m د نابرابرو زورونو سره په بیره کیږي.




پورته کې:

کتله همغه، زور بدلیدونی یا تغیرخوړونکی

هر څومره چې زور لوي وي، همغومره یې بیره لویه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيره د زور سره متناسب ده.




پورته کې:

زور همغه، کتله بدليدونکي هرڅومره چې کتله لويه وي، همغومره بيره کوچنۍ ده.

بيره د کتلي سره په څټ متناسب ده.

زور، کتله،بيره يو د بل په واک کې دي.

باور لري: بيره = کتله /زور $a = F / m$

يو ټيک ازماېښت يې کيدی شي د يو لړ کچلړيو سره د خوزندپټلي له لارې منځ ته راشي.

د نيوتونزورلار(- زورقانون): (ديناميکي بنسټلار)

زور = کتله . بيره $F = m.a$

ځنګړی حالت د $F=0$ له پاره:

$$F= m.a \Rightarrow 0=m.a \quad ; m|=0 \quad \Rightarrow a=0;$$

د ګاليليو ګاليليې Galileo Galilei د لټوالي ( بې خوزښته) جمله:

يو تن ارام (لټ يا ځای په ځای) - يا په برابربنيز خوزښت پاتيږي، که په هغه کوم زوراغيز ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: یوتن ټیک یا فقط د یوه زوراغیز لاندې کړی شي خپل خوزښتحالت بدل کړي.

یو موټر، چې د خورا جګې بیړې سره ځي، ولې ټیک یوې ټاکلې چټکتیا ته رسیږي؟

د سولیدلوزور – د ټیلوهلو زور= د بیړې زور

$F_b = F_a - F_r$

که چیرې د سولیدلوزور د ټیلوهلوزورسره برابر وي، نو چټکتیانوره نه شي زیاتیدی.

د زور یوون ۱نیوتن

پیژند: زور 1N هلته اغیز لري، چې د یو کیلوګرام کتلې یو تن ته ( $1\frac{m}{s^2}$ ) ( $1m/s^2$ ) بیړه ورکړی شي.

$$F = 1kg \cdot 1\frac{m}{s^2} = 1\frac{kgm}{s^2} := 1N$$

۲ . ۳ - په یوې تلوني-لار( Fahrbahn ) د بیړې کچونه:

د یوې تجربې پروتوکول اوارزښتونه:

وخت کچیږي، په هغه کې چې یو واګون د 1m کچواټن له پاره په یوه بیړبیز- یا په بیړه خوزښت ته اړتیا لري.

لاندې لښتکې ۱ :کتله m د نابرابرو زورونو سره په بیړه کیږي. کتله همغه( ثابته) زور اووښتونی یا متحول.

| F/N | m/kg | s/m | $t_1$/s | $T_2$/s | $t_3$/s | <t> |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 0,5 | 1,0 | 1 | 2,2 | 1,9 | 2,1 | 2,07 |
| 1,0 | 1,0 | 1 | 1,5 | 1,3 | 1,4 | 1,4 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1,5 | 1,0 | 1 | 1,2 | 1,1 | 1,2 | 1,17 |

هره یوه په ګوته شوې یا کچ شوې بیړه کیدی شي د لار – وخت – لار( قانون) څخه وشمیرل شي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| $s = \frac{a}{2} \cdot t^2 \Rightarrow a = \frac{2s}{t^2}$ | m = 1,0 kg | F = 0,5 N | $a = \frac{2s}{t^2} = \frac{2m}{(2{,}07s)^2} \approx 0{,}47\frac{m}{s^2}$ |
| | m = 1,0 kg | m = 1,0 N | $a = \frac{2s}{t^2} = \frac{2m}{(1{,}4s)^2} \approx 1{,}02\frac{m}{s^2}$ |
| | m = 1,0 kg | m = 1,5 N | $a = \frac{2s}{t^2} = \frac{2m}{(1{,}17s)^2} \approx 1{,}46\frac{m}{s^2}$ |

لاس ته راوړنه ښایی:

هر څومره چې په برابره کتله زورلوي وي، همغومره بیړه لویه ده.

شمیرلشوي بیړه-ارزښتونه کیدی شي و په بیړه شوي زورته په واکوالي کې په یوه دیاګرام کې وکښل شي.




د په نخښه شوو کچټکو تړل یوه کرښه راکوي، چې له صفرټکي تیریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره کيدی شي راوتړل شي يا پای شي:

بيره د په بيره شوي زور سره متناسب ده.

$a \sim F$

| F/N | m/kg | s/m | $t_1/s$ | $t_2/s$ | $t_3/s$ | <t> |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1,0 | 0,5 | 1 | 1,2 | 0,9 | 1,1 | 1,07 |
| 1,0 | 1,0 | 1 | 1,5 | 1,3 | 1,4 | 1,4 |
| 1,0 | 1,5 | 1 | 1,8 | 1,9 | 1,7 | 1,8 |

لښتکی ۲ :

نابرابرې کتلې د برابرزور سره په بيره کيږي.

زور همغه، کتله اوښتوني يا متحوله.

هره اړونده بيره کيدی شي د لار - مهال- قانون څخه وشميرل شي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| $s = \frac{a}{2} \cdot t^2 \Rightarrow a = \frac{2s}{t^2}$ | m = 0,5 kg | F = 1,0 N | $a = \frac{2s}{t^2} = \frac{2m}{(1{,}07s)^2} \approx 1{,}75\frac{m}{s^2}$ |
| | m = 1,0 kg | m = 1,0 N | $a = \frac{2s}{t^2} = \frac{2m}{(1{,}4s)^2} \approx 1{,}02\frac{m}{s^2}$ |
| | m = 1,5 kg | m = 1,0 N | $a = \frac{2s}{t^2} = \frac{2m}{(1{,}8s)^2} \approx 0{,}62\frac{m}{s^2}$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ته راوړنه ښايي:د برابرپاتې په بيړه شوې زور سره چې هرڅومره کتله لويه وي، همغومره بيړه کوچنۍ ده.

شميرلشوې بيړه-ارزښتونه د يوه بيړه-کتلې په واکوالي کې په يوه دياګرام کې کښل کيږي.




د ليکلشوو کچېکوټړنه يوه کږه (منحني) راکوي، چې دا مويوه ګومان ته لارښودوي، چې دا په څټ يا محامخ او که غواړی، معکوس متناسب ده.

له دې څخه پای ته راځو:

بيړه د په بيړه- کيدونکي زورسره په څټ متناسبده.

$$a \sim 1/m$$

$$a \sim \frac{1}{m}$$

ترې راوتنه:

له $a \sim F$ اولرو: $a \sim \frac{1}{m}$

$a \sim F \cdot \frac{1}{m}$ باورلري: $a = \frac{F}{m}$

د زور، کتلې او بيړې په منځ کې اړيکې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



باورلري: $a = \frac{F}{m}$ یا $F = m \cdot a$

دا د نیوتن زورقانون دئ.

بیړه . کتله = زور یا $F = m \cdot a$

بیلګه: د کوم زورسره یوازماپښتپیلوټ د کتلې $m = 70\ kg$ سره د پیلوټ چوکی باندې کیکاګل کیږي، چې الوتکه د $a = 40\ m/s^2$ ( $= 4\ G$ ) سره په بیړه کوي؟

$$F = m \cdot a = 70kg \cdot 40\frac{m}{s^2} = 2800\frac{kg \cdot m}{s^2} = 2800N \quad (1\frac{kg \cdot m}{s^2}) = 1N$$

دا د 280 kg یو وزنزور یا دروندوالیزور راکوي.

## ۲ . ۲ - ازاده- یا خپلواکه غورزونه یا غورزیدنه:

یادونه: غورزیدنه یا لوېدنه

یو چترئ ټوپو هونکی ژورې ته کوم خوزښت سره غورځي؟

په ازاده غورځونه کې وړونکی زور دروندوالیزور(وزنزور) دئ. دا د هر بدن یا تن له پاره یوه پوره ټاکلې لویه لري. موږ اوس پوهیږو، چې یوتن، په کوم چې یو همغه(ثابت) زور اغیز وکړي، برابرډوله په بیړه کیږي.

نیونه: ازاد یا خپلواکه غورزېدنه یو برابرډوله په بیړه خوزښت دئ. د نیوتن زورقانون له لارې باید باوري شي:

$$F = m \cdot a \Rightarrow a = \frac{F}{m}$$

نوباید د یوه تن د کتلې او دوروندوالي بیره وشمیرل شي، چې په خپلواکه غورزونه کې پرې اغیز کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلګه: د ۱ میلیګرام کتله دبېکتلې ( فنراوکه څه ورته وايي) سره تلل کيږي موږ د $F = 9,8\ N$ يودرونوالي لولو $\left(1N = 1\frac{kgm}{s^2}\right)$

$$a = \frac{F}{m} = \frac{9,8\ N}{1kg} = \frac{9,8\ \frac{kgm}{s^2}}{1kg} = 9,8\ \frac{m}{s^2}$$

په ازاده غورزونه کې يوه $m = 1\ kg$ کتله بايد $9,8\ m/s^2$ بيړې ته ورسيږي.

پام: پورته نيونه دې د يوې تجربې له لارې باوري يا تصديق شي.

د دې له پاره يو وسپنغونداری د بيلابيلو چګواليوغورزول کيږي.

له ازاد غورزيدمهال څخه، چې موږيې اندازه کوو، موږبيړه ټاکو.

$$s = \frac{a}{2}t^2 \Rightarrow a = \frac{2s}{t^2}$$

کچلړی:

| غورزيدجګوالی[m] h | غورزېدمهال[s] t | غورزېدبيړه[m/s$^2$] g |
|---|---|---|
| 1,2 | 0,49 | 10,0 |
| 1,00 | 0,45 | 9,88 |
| 0,8 | 0,4 | 10,0 |
| 0,6 | 0,35 | 9,8 |
| 0,4 | 0,29 | 9,51 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| 0,2 | 0,2 | 10,0 |

کچلرۍ د بیړې $a \approx 10\frac{m}{s^2}$. لاس ته راوړنه راکوي.

په یاد ولره: غورزېدخوزښت یو برابرډوله په بیړه خوزښت دی.

غورزېدبیړه ده: $a = g = 9,81\ m/s^2$

ایا د ټولو تنونو له پاره ازادبیړه برابره ده؟

ازمایښت:یواوسپنغونداری اویوه بڼکه نابرابر زر غورزیږي.

د هواپه څېزور په لویو، سپکو تنونو زورورا غیز لري، په کوچنیو، درنوبدنونو نږدې بې اغیز دي.

ولې لویې کتلې، په کومو چې زورور دروندوالی اغیز کوي نسبت کوچنیوبدنونوته زر نه غورزي لکه دا؟

دلیل یې د کتلې لټوالی دی: $2G = 2m \cdot g \qquad G = m \cdot g$

| | |
|---|---|
| $2G = 2m \cdot g \qquad G = m \cdot g$ | سرچینه د کتلې لټوالی دی |

بیلګه : د آیفل برج له څوکې ( h = 300 m ) یوه تیږه پریږدي، چې ولویږي.

د کوم مهال او کومې چټکتیا وروسته دا په زمکه غورزي؟

د هوا مقاومت څخه تیریږو..( $g = 10\ m/s^2$ )

الف – غورزېدمهال

$$v = g \cdot t$$

$$h = \frac{1}{2} g \cdot t^2 \Rightarrow t = \sqrt{\frac{2 \cdot h}{g}} = \sqrt{\frac{2 \cdot 300m}{10\frac{m}{s^2}}} = \sqrt{60s^2} \approx 7,7s$$

ب – غورزېدچټکتیا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$v = g\cdot t = g\cdot\sqrt{\frac{2h}{g}} = \sqrt{2g\cdot h} = \sqrt{2\cdot 10\frac{m}{s^2}\cdot 300m}$$
$$= \sqrt{6000\frac{m^2}{s^2}} \approx 77{,}5\frac{m}{s} \approx 280\frac{km}{h}$$

د ازادې غورزېدنې له پاره لاندې قانونمندې باورلري

$$v = g\cdot t \qquad h = \frac{g}{2}t^2$$

غورزېدمهال د غورزېدجګوالي په واکوالۍ کې: $t = \sqrt{\frac{2\cdot h}{g}}$

د غورزېدو چټکتيا د غورزېدجګوالي په واک کې $v = \sqrt{2g\cdot h}$

پوښتنې او اوبيونې:

۱ – يو موټر د $m = 1100\ kg$ کتلې د چالانيدوسره $a = 5\ m/s^2$ بيړه غوره کوي،
زور څومره لوي دی، چې موټر په خوزښت راولي؟

اوبی :ورکړی، غوښتونی

$$\text{gegeben:} \quad m = 1100\,kg,\ a = 5\frac{m}{s^2} \qquad \text{gesucht: } F$$
$$F = m\cdot a = 1100kg\cdot 5\frac{m}{s^2} = 5500\frac{kg\cdot m}{s^2} = \underline{\underline{5500N}}$$

دا موټر $5500\ N$ زور سره په خوزښت راوستل کيږي.
۲ – د يوه ګول له پاره يو لوبغاړی د يوه $m = 0{,}5\ kg$ کتلې توپ سره په يوه $F = 500$ Nوهنزور باندې يو ګول وهي.

د پينو توپ کومې چټکتيا ته رسيږي، که وهنه نږدې $0{,}02\ s$ دوام وکړي؟

پيلښوونه:لومړی بيړه وشميری، چې توپ غوره کوي. پسې د په بيړه شوي خوزښت لپاره د توپ چټکيا وټاکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبي: geg ورکړه: غوښتنه:ges

$$\text{gegeben: } m = 0{,}5\,kg,\ F = 500\,N,\ t = 0{,}02\,s \qquad \text{gesucht: } v$$

$$F = m \cdot a \Rightarrow a = \frac{F}{m} \qquad v = a \cdot t = \frac{F}{m} \cdot t = \frac{500\,kg \cdot \frac{m}{s^2}}{0{,}5\,kg} \cdot 0{,}02s = 20\frac{m}{s}$$

توپ 20 m/s چټکتیا ته رسیږي.

۳ – کوم زور ته اړتیا شته، چې یو د m = 1000 kg کتلې موټر ته په ۱۰ ثانیو کې په د 20 m/s چټکتیا سره بیړه ورکړي؟

پیلالرښوونه: لومړید ورکړ شوېلويي څخه بیړه وشمیره . بیا د ینامیک بنسټقانون زور وشمیره.

اوبی: geg ورکړه: غوښتنه:ges

$$\text{gegeben: } m = 1000kg,\ t = 10s,\ v = 20\frac{m}{s} \qquad \text{gesucht: } F$$

$$F = m \cdot a \qquad v = a \cdot t \Rightarrow a = \frac{v}{t}$$

$$\Rightarrow F = m \cdot \frac{v}{t} = 1000\,kg \cdot \frac{20\frac{m}{s}}{10s} = \frac{1000 \cdot 20}{10} \cdot \frac{kg \cdot m}{s^2} = 2000N$$

د بیړې لپاره یوه د 2000 N زور ته اړتیا شته.

۴ – یو ګاډی د m = 700 t کتلې ګاډی د بیړې سره د $0{,}15\ m/s^2$ تمیدني( تمیدڅای) څخه خوزي.

د بیړې لپاره کوم زور ته اړتیا ده؟

اوبي: geg ورکړه: غوښتنه:ges

$$\text{gegeben: } m = 700\,t = 700\,000kg,\ a = 0{,}15\frac{m}{s^2} \qquad \text{gesucht: } F$$

$$F = m \cdot a = 700000\,kg \cdot 0{,}15\frac{m}{s^2} = 700000 \cdot 0{,}15\frac{kgm}{s^2} = 105000N = 105\,kN$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بیړې زور 105 kN دی.

۵ – د جولز رومان کي(سپوږمۍته صبر) سپوږمۍ ته راکټ د یوه توپ څخه وېشتل کیږي. دا به تخنیکي شوني وي؟

داتن:

د انسان د تن کتله: m = 70 kg

اړیین پیلچټکتیا: v = 11 km/s

د توپ توټي اوږدوالی: s = 100 m

اوبی: geg ورکړه: ges:غوښتنه

$$\text{gegeben: } m = 70\,kg,\ v = 11\frac{km}{s},\ s = 100\,m \qquad \text{gesucht: } a$$

$$v = a \cdot t \Rightarrow t = \frac{v}{a}$$

$$\Rightarrow s = \frac{a}{2}t^2 = \frac{a}{2}\left(\frac{v}{a}\right)^2 = \frac{a \cdot v^2}{2 \cdot a^2} = \frac{v^2}{2a} \Rightarrow a = \frac{v^2}{2s}$$

$$F = m \cdot a = m \cdot \frac{v^2}{2s} = 70\,kg \cdot \frac{\left(11000\frac{m}{s}\right)^2}{2 \cdot 100\,m} = \frac{70 \cdot (11000)^2}{200} \cdot kg \cdot \frac{\frac{m^2}{s^2}}{m}$$

$$= 42350000\,N = \underline{\underline{42{,}35\,MN}} \Rightarrow a = \frac{F}{m} = \frac{42350000 \cdot \frac{kg \cdot m}{s^2}}{70\,kg} = \underline{\underline{605000\frac{m}{s^2}}}$$

د بیړې ارزښت G 60 500 دی. دا نه انسان زغملی شي او نه یوه بله ماده.

۶ – یویخخویوونی، د یوپه دې ناست کس سره یوځای 80 kg کتله لري، د یوه F = 50 N زور سره له ځایه په بیره کیږي.

لومړی - د حالت لپاره ، چې د سولولوزور لاندې راتللو ته اړتیا نه وي:

الف- بیره، چې خویونییې باندې پرېوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب – بیړه واټن، چې په لومړیوڅلور دقیقو کې وهل کیږي.

پ – له څلور دقیقووروسته رسیدلې چټکتیا.

دویم – پورته شمیرنه د حالت لپاره وشمیرئ، چې د یخخویوني راکښنې لپاره یوهمغه یا ثابت $F_R = 10$ N زور ووهلی شي یا د همغه $F_R = 10$ N زور له توانه ووتلی شي..

اوبې:

لومړی-بې له سولیدلو زورڅخه

الف - $F = m \cdot a \Rightarrow a = \frac{F}{m} = \frac{50\,N}{80\,kg} = \frac{50kg\frac{m}{s^2}}{80\,kg} = \frac{50}{80}\frac{m}{s^2} = 0{,}625\frac{m}{s^2}$

یخخویونیباندې د $a = 0{,}625\ m/s^2$ بیړه اغیز کوي.

ب - $s = \frac{a}{2}t^2 = \frac{0{,}625\frac{m}{s^2}}{2} \cdot 16s^2 = 5m$

بیړه واټن، چې څلورثانیې دوام کوي $s = 5$ m دئ.

پ - $v = a \cdot t = 0{,}625\frac{m}{s^2} \cdot 4s = 2{,}5\frac{m}{s}$

د څلورثانیووروسته بیړه$v = 2{,}5$ m/s ده.

دویم ـ د همغه یخخویوني - یا یختلوني زور$F_R = 10$ N سره ه شمیرلی

بیړه-زور : $F_B = F - F_R = 50N - 10N = 40N$

الف ـ $F = m \cdot a \Rightarrow a = \frac{F}{m} = \frac{40\,N}{80\,kg} = \frac{40kg\frac{m}{s^2}}{80\,kg} = \frac{40}{80}\frac{m}{s^2} = 0{,}5\frac{m}{s^2}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



یختلونی یوه د $a = 0,5\ m/s^2$ بیړه غوره کوي.

ب - $s = \frac{a}{2}t^2 = \frac{0,5\frac{m}{s^2}}{2} \cdot 16s^2 = \underline{\underline{4\,m}}$

د بیړې وهونکی واټن ، څلوروثانیو کې $s = 4\ m$ دی.

پ - $v = a \cdot t = 0,5\frac{m}{s^2} \cdot 4s = \underline{\underline{2,0\frac{m}{s}}}$

لاس ته راغلي چټکتیا د څلوروثانیووروسته $v = 2\ m/s$ ده.

۷ – د منځني تولګي موټر ( Masse: 1000 kg ) په ۱۰ثانیوکې له ۰ څخه و 100 km/h ته په بیړه کیږي.

الف – منځنی بیړه څومره لویه ده؟

په موټر منځنی زور څومره دی؟

اوبی : geg ورکړه: غوښتنه:ges

$$\text{gegeben: } m = 1000\,kg,\ t = 10\,s,\ v = 100\frac{km}{h} = \frac{100}{3,6}\frac{m}{s}$$

الف - $v = a \cdot t \Rightarrow a = \frac{v}{t} = \frac{\frac{100}{3,6}\frac{m}{s}}{10\,s} = \frac{10}{3,6}\frac{m}{s^2} \approx \underline{\underline{2,7\frac{m}{s^2}}}$

ب - $F = m \cdot a = 1000kg \cdot \frac{10}{3,6}\frac{m}{s^2} \approx 2777,7\frac{kgm}{s^2} = \underline{\underline{2777,7N}}$

۸ – د یوه سوزوونکي ماشین کولب Kolben د المینیوم څخه جوړیږي، یعني له یو ډېرسپک فلز څخه. ولې کولبونه باید د شونتیا تر پولې سپک وي؟

ژباړی: Kolbe پهماشینجوړونه کېکولب د ماشینیو هبرخه ده، چې د چاپیریال پوښ سره یو تشچاپیریال جوړوي، چې ډکی یېد خوزښت سره بدلیږي.( له ویکي څخه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبی: کولبينونه د ماشين د جګ څرخونګې سره د بيلګې په توګه 6000 / min په ثانيه کې ۱۰۰ ځله ښکته پورته لور ته خوزي، نو د خورا غټ بيري زور لاندې راځي. دا په ذخيره کې منځ ته راغلی زور د شونتيا په حالت کې کم چې وساتل شي، کيدی شي دا د F = m x a له امله ټيک د کولبنونو د کوچني وزن له امله دې ته ورسيږي يا دا پوره شي.

پوښتنې او ځوابونه:

۱ – د بې ځايه درولشوي موټر ورنې له پاره خطر شتون لري، چې غزولی راکښنپيري د ټيله زور اچوني له لارې وشکيږي

اوبي
د ټيله ډوله خوزښت سره کيدی شي د وړوني موټر لټوالي ( ځای په ځايوالي) له امله په پيري داسې جګ زور منځ ته راشي، چې پيری وشکيږي.

۲ – لټوالي قاون کومن دی؟څنګه يو موټر بې له دننني زور څخه په هواره لار په سيده کرښه د يوه ټاکلي وخت وروسته ودريږي؟

د ګاليليو د لټوالي قانون: يو تن ځاي په ځاي پاتيږيیا برابربنيزه خوزښت لري، که په هغه کوم زوراغيرونه لري.

دا په دې مانا، چې ټيک د يوه دباندني زور اغيزسره يو تن خوزښت حالت ته تغير ورکوي يا بدلوي.

يو بي د دننني خوزښت موټر په يو سرک يو کله د دربد حالت ته راځي يعني دريږي، ځکه چې سولولزور له لارې تميږي ( خوزښت باد، ځای سوليدل (په سرک سوليدلزور))

۳ – د نيوتن زورقانون څه وايي؟

اوبی:

د نيوتن زورقانون: زور = کتله . بيړه $\boxed{F = m \cdot a}$

د $F = 0$ لپاره څنګړی حالت: $F = m \cdot a \Rightarrow 0 = m \cdot a \Rightarrow a = 0$ , $da\ m \neq 0$

۴ - يو د 1400 kg کتلې موټر د 3,6 kN تمنزور( تمووني – يا بريکزور) تميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تموونې کيږنه څومره ده؟

اوبي: ورکړی، غوښتونی

